**د تېر۱٤۰۳ هـ ش کال په اوږدو کې د افغاني سرې میاشتې لاسته راوړنې**

- افغاني سرې میاشتې پلازمېنه کابل کې د مرکزي روغتون، کندهار کې د جامع کمپلېکس، ثابتو او فرعي کلینیکونو او ګرځنده روغتیايي ټیمونو له لارې د ټول هېواد په کچه پنځه میلیونه دوه سوه اولس زره اوه څلوېښت (۵۰۲۱۷۴۷) تنو ته په بېلابېلو روغتیايي برخو کې خدمات وړاندې کړي دي. دې خیریه ملي ټولنې په یاده موده ټولټال ۱۹۲۷تنه د سوري زړه پر ناروغۍ اخته ناروغن کورنیو روغتونونو ته د درملنې په موخه ورپېژندلي دي. دا راز د سترګو په ناروغۍ د اخته ۲۳۶۴۴ تنه ناروغانو درملنه شوې ده.
- افغاني سرې میاشتې د خپلو مرستونونو له لارې د ټول هېواد په کچه (۵۹۶) تنو داخلي مشمولینو ته د اعاشې او اباطې ترځنګ د ژوند ټولې اسانتیاوې برابرې کړي او (۴۲۶۹) تنو مشمولینو کونډو او بې سرپرسته مېرمنو او د هغوی اولادونو ته یې د تعلیمي او حرفوي زده کړو زمینه هم برابره کړې ده.
- دې خیریه ملي ټولنې په ټول هېواد کې د (۲۹۵۰) متسحقو سوالګرو کورنیو له غړو سره (۱۷۵۴۴۳۱۴۳) یو سل پنځه اویا میلیونه څلور سوه دري څلوېښت زره یو سل او دري څلوېښت افغانۍ نغدي مرسته ترسره کړې ده.
- همدا ډول د افغاني سرې میاشتې اړوند ښوونیزو مرکزونو کې (۹۴۳۱۷) څلور نوي زره درې سوه او اولس اړمنو او بې وزله زده کوونکو ته د دیني او عصري علومو برخه کې زده کړې ورکړل شوي دي.
- سربېره پر دې په یاد موده ۲۹۷۹ تنه نوي غړي جذب شوي دي.
- افغاني سرې میاشتې په تیر یوه کال کې له (۷۰۲۵۴۰)اوه سوه دوه زره او پنځه سوه څلوېښت اړمنو او پېښځپلو سره د خوراکي او غیرې خوراکي توکو ترځنګ (۷۱۳۳۳۴۵۰۰)

اوه سوه دیارلس میلیونه درې سوه څلوردیرش زره او پنځه سوه افغانی نغدي مرسته ترسره کړې ده.

- همدارنګه د دې خیریه ملي ټولنې له لوري د تېر یو کال په اوږدو کې د کاري شریکانو په مرسته هرات ولایت کې زلزله ځپلو ته (۸۸) کورونه جوړ شوي چې ټولټال (۲۰۲) میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلی ده.

**دخبراوراپورعمومی مدیرغلام حسن اباسین**